# د کتاب پېژندنه

یوییل نبي د میلاد نه څو پېړۍ مخکې د اسراییلو په جنوبي سیمه کې اوسېده او دا کتاب یې د هغه ځای خلکو ته لیکلی دی. د یوییل نبي په زمانه کې د ملخانو او وچکالۍ بلا راغلې وه او هغه دې ته د څښتن د قضاوت په توګه ګوري او پېشګویي کوي چې په راتلونکې کې به د دښمن یو لښکر په اسراییلو باندې حمله وکړي.

د یوییل نبي په کتاب کې یوه مهمه موضوع «د څښتن د ورځې» اصطلاح ده. دا ورځ هغه وخت ته اشاره کوي چې څښتن به د قضاوت یا خلاصون دپاره عمل کوي. دا پېښه به د بشریت د تاریخ په اوږدو کې رامنځته کیږي، د مثال په ډول هغه لس ګونه بلاګانې چې د موسی په وخت کې د مصر په خلکو باندې راغلې. په همدې ډول د یوییل نبي په وخت کې هم د اسراییلو قوم د ملخانو د بلا سره مخ شول. په دې ډول یوییل د خپل پیغام سره خلکو ته بلنه ورکوي چې د خپلو ګناهونو څخه لاس واخلي، ترڅو څښتن هم د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلې وعدې سره سم هغوی یوځل بیا ورغوي او د خپلو برکتونو
څخه یې برخمن کړي. د ټولو نه مهمه دا ده چې څښتن وعده وکړه
چې خپل روح به په ښځه او نر، زوړ او ځوان باندې نازل کړي. په
دې ډول یوییل نبي یو بېچاره قوم ته یو امید ورکوي.

## د موضوعګانو لست

د ملخانو او وچکالۍ وبا : ۱: ۱– ۲: ۱۷

د څښتن د برکت وعده: ۲: ۱۸ – ۲۷

د څښتن د روح نازلېدل او د څښتن ورځ: ۲: ۲۸ – ۳: ۲۱

۱ دا پیغام د څښتن له خوا د فتوییل زوی یوییل ته ورکړل شو.

## د ملخانو له خوا د فصلونو تباه کېدل

۲ ای مشرانو، واورئ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د یهودا ټول خلک دې غوږ ونیسي

داسې کار شوی کله

ستاسو په وخت کې

یا ستاسو د نیکونو وخت کې؟

۳ خپل اولادونه کړئ خبر له دې نه

او خپل اولادونه دې خبر کړي هغوی

د یو نسل نه تر بل نسله پورې

۴ څه چې شول پاتې د ملخانو د لښکر څخه

هغه وخوړل غټو ملخانو

څه چې پاتې شول له غټو ملخانو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه وخوړل کوچنیو ملخانو

څه چې پاتې شول له کوچنیو ملخانو

هغه وخوړل نورو ملخانو

۵ ای شرابیانو، ویښ شئ او وژاړئ

په چیغو چیغو وژاړئ ای د شرابو څښونکو

هغه انګور دي تباه شوي چې جوړېدل

نوي شراب ورڅخه

۶ زمونږ وطن باندې حمله کړې ده

د ملخانو لښکر

هغوی قوي دي او دي بې‌شماره


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دوی غاښونه دي تېره

لکه غاښونو د زمريو په شان

٧ هغوی تباه کړل زمونږ تاکونه

او پوستکي يې وويستل زمونږ د انځر له ونې

هغوی سپين کړي دي پوستکي د دې

دي پريښي لوخې ښانګې د دې

٨ داسې وژاړئ، ای خلکو

لکه چې پېغله واغوندي د وير کالي

د خپل نامزاد په مړينې

٩ نشته غله او نه شراب چې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کړي يې وړاندې د خدای کور کې

کاهنان کوي ماتم ځکه چې نشته

نذرانې ورسره د څښتن دپاره

١٠ پټې پراته دي شاړ

او ځمکه وير کوي

ځکه تباه شوي دي غلې دانې

او وچ شوي دي انګور

او مړاوې شوې د زيتون ونې دي

١١ خفګان کوئ ای بزګرانو

ژړا کوئ ای د تاکونو باغوانانو



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په دې خاطر چې غنم او اوربشې

تباه شوي ټول فصلونه

۱۲ مړاوي شوي دي تاکونه او د انځرو ونې

وچې شوې ټولې د انار، خرما او د مڼو ونې

ټولې ونې د مېوو دي وچې شوې

له منځه تللې خوشحالي د خلکو

## یوئېل بیا توبې ته د خلکو رابلل

۱۳ ای کاهنانو چې خدمت کوئ په قربانګاه کې

د وير کالي واغوندئ او ژړاګانې کوئ

ای خادمانو زما د خدای



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نړوځئ د خدای کور ته او کوئ وير ټوله شپه

نشته غلې او شراب چې يې کړئ وړاندې خدای ته

(۱۴) حکم ورکړئ چې روژه ونيسي

راوغواړئ مذهبي غونډه

سره راټول کړئ مشران او ټول خلک

د خپل څښتن خدای په کور کې

او وکړئ فرياد هغه ته

(۱۵) رانژدې شوې د څښتن ورځ ده

هغه ورځ چې تباهي راولي مطلق قادر څښتن

راولي په هغه ورځ به څومره ويره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ زمونږ د سترګو مخکې

تباه کيږي فصلونه زمونږ

نوره نشته خوشحالي زمونږ

د خدای په کور کې

۱۷ په وچه ځمکه کې تخمونه ځي له منځه

غلې دانې نشته چې شي ذخيره

او تش ګودامونه کنډوالې پراته دي

۱۸ غويان رمباړې وهي لوږې له لاسه

ځکه چې نشته څړځای هغوی دپاره

هم سرګردانه ګرځي د پسونو رمې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ ای ښځنتنه، تا ته فریاد کومه

ځکه چې داسې دي وچ شوي څړځایونه او ونې

لکه چې اور وي سوځولي هغه

۲۰ حتی فریاد کړي تا ته ځنګلي حیوانات

په دې سبب چې وچې شوې ویالې

او اور له منځه وړي څړځایونه د بیابان

## ملخان لکه د دښمن په شان حمله کوي

۱ د خدای سپېڅلې غره یعنې صهیون باندې

ووهئ سرنی، د خطر زنګ ووهئ

له وېرې ولړزېږئ ای د یهودا خلکو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې زر به راشي ورځ د ښبنتن

۲ هغه به وي يوه تياره او خړه پړه ورځ

يوه توره او توفاني ورېځ

يو قوي او لوی لښکر به وي روان مخکې

لکه تياره چې شي خپره په غرونو

هېڅکله نه دی ليدل شوی داسې شی

او وبه نه ليدل شي هيڅکله له دې نه وروسته

۳ دوی به خوري بوټي لکه د اور په شان

ځمکه به وي د هغوی مخکې د عدن په شان

خو د دوی شاته به وي شاړه دښته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هېڅ شی نه شي خلاصېدی له دوی نه

۴ هغوی ښکاري د اسونو په شان

او وهي منډې جنګي اسونو په شان

۵ چې کله ووهي ټوپونه هغوی

د غرو سرونو باندې

هغوی کړپهار کوي جنګي ګاډیو په شان

داسې ترقار کوي لکه په اور کې

چې وچ وابنه سوځیږي

لکه قوي لښکر په شان

چې وي روان جنګ ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ چې دوی راورسیږي نو وېرېږي هرڅوک

د هرچا رنګ زیړ شي

۷ هغوی حمله کوي د جنګیالیو په شان

هغوی خېژي دېوالونو باندې لکه عسکرو په شان

ټول راروان وي مخامخ

او نه بدلوي خپله لار

۸ نه ټېل وهي یو بل

هر یو روان وي په خپله لاره

ورننوځي په مرچلو باندې

او هیڅ شی یې هم نه شي نیولی مخه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۹ هغوی یرغل کوي په ښار باندې

وهي منډې په دېوالونو باندې

هغوی ورخېژي په کورونو باندې

او ورننوځي لکه د غلو په شان

په کړکیو باندې

۱۰ ځمکه خوځیږي د هغوی په مخکې

او لړزیږي اسمانونه

تیاره کیږي لمر او سپوږمۍ

او نور نه ځلیږي ستوري

۱۱ ورکوي حکم خپل لښکر ته ښتن


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

په لوړ اواز سره

هغو لښکرو ته چې دي زيات او قوي

او اطاعت يې کوي

د څښتن ورځ ده لويه او هيبتناکه څومره

څوک کولای شي چې ټينګ شي ورته؟

## توبې ته د خلکو رابلنه

۱۲ څښتن وايي:

خو اوس هم توبه وباسئ د زړه د اخلاصه

او ما ته رجوع وکړئ

روژه ونيسئ، وژاړئ او وکړئ ماتم


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ ستاسو په زړونو کې ښکاره دې شي خفګان

دا بس نه دی چې کالي وشلوئ

بېرته راوګرځئ خپل څښتن خدای ته

دی مهربانه او رحیم دی هغه

نه په قهرېږي هغه زر او تلپاتې مینه یې ده ډېره زیاته

هغه بخښنې ته تیار دی همېشه او سزا نه ورکوي

۱۴ څوک پوهېږي چې څښتن خدای

کړي بدله اراده خپله

او برکت تاسو ته درکړي چې فصلونه مو شي زیات

بیا کولای شئ چې وړاندې کړئ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

غلې او شراب هغه ته د نذرانې په توګه

۱۵ سرنی ووهئ د صهیون غره باندې

اعلان وکړئ د روژې دپاره

او راوغواړئ مذهبي غونډه

۱۶ خلک راټول کړئ سره

هغوی پاک کړئ د مجلس دپاره

سپین‌ږیري راولئ

ماشومان راټول کړئ او هم تي رودونکي کوچنیان

خپلې کوټې نه دې راوځي زوم او ناوې

او رادې شي مجلس ته


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

١٧ کوم کاهنان چې کړي خدمت د ښتن

هغوی دې ودرېږي د قربانګاه

او عبادتځای د دروازې په منځ کې

هغوی دې وژاړي او دعا دې وکړي

ای ښتنه، رحم وکړه په خپل قوم باندې

مه پرېږده نور قومونه چې سپکاوی وکړي زمونږ

او په مونږ ووهي ملنډې

او ووايي چې چېرته دی خدای ستاسو؟

## ښتن بیا خپل وطن جوړوي

١٨ نو ښتن به وکړي غیرت په خپل وطن باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او رحم به وکړي په خپل قوم باندې

١٩ ښښتن قبوله به کړي دعا د هغوی او وبه وايي:

نو درکوم تاسو ته

غلې داني او شراب او د زيتونو تېل

او شئ به ماړه تاسو هغو باندې

زه به پرېنږدم نور قومونه

چې تاسو ته وګوري نور په سپکه سترګه

٢٠ زه به ورک کړمه لښکر د ملخانو

چې راغلي له شماله

او څه به ترې وشړمه شاړې دښتې ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مخکینی ډله به وشړم زه مړې بحیرې ته

وروستنی ډله د مدیترانې بحیر ته

بد بوی به راځي د هغوی د مړو نه

هغوی چې ستاسو سره کړي دي څه

زه به یې برباد کړم د هغو په سبب

٢١ ای ځمکې مه وېرېږه

بلکې خوښي کوه، خوشحاله اوسه

هغو لویو کارو په خاطر چې څښتن

کړي دي ستا دپاره

٢٢ ای حیواناتو، تاسو مه وېرېږئ



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ځکه شنه کېږي د څړځايونه

ونې به نيسي مېوې

او وي به پرېمانه انځران او انګور

۲۳ خوشحاله اوسئ، اى د صهيون خلکو

کړئ خوشحالي هغو کارو په خاطر

چې څښتن خداى کړي دي ستاسو دپاره

هغه درکړی په سم وخت کې باران د منې

دى اوروليٰ هغه باران د ژمي تاسو باندې

او د پسرلي باران لکه پخوا په شان

۲۴ ستاسو درمند به شي ډک له غلو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو چاټۍ به شي ډکې د شرابو

او زيتونو تېلو

٢٥ تاسو له لاسه چې ورکړي دي څه

هغه به بېرته درکړم

کومو کلونو کې چې ستاسو فصلونه

وو خوړلي ډلو ډلو ملخانو

لکه غټو ملخانو، کوچنيو ملخانو

او نورو ملخانو

هغه زه وم چې مې لېږلی ؤ هغه لښکر

په مقابل د ستاسو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ اوس به لرئ هر څه پرېمانه د خوراک دپاره

چې شئ ماړه ورباندې

د خپل څښتن ثنا او صفت به کوئ

چا چې کړي عجيبه کارونه ستاسو دپاره

بيا به هېڅکله ونه شي سپکاوی زما د قوم

۲۷ نو اسراييلو، پوه به شئ چې زه اوسېږمه ستاسو منځ کې

او دا چې ستاسو څښتن خدای يمه زه او بل خدای
نشته

بيا به هېڅکله ونه شي سپکاوی زما د قوم

# څښتن به په ټولو باندې خپل روح نازل کړي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ وروسته نازل به کړم خپل روح په ټولو

پیغام به ورسوي ستاسو زامن او لوڼې

ویني خوبونه به ستاسو زاړه خلک

او ستاسو ځوانان به رویاګانې ویني

۲۹ په هغه وخت کې به خپل روح نازل کړم

په خدمتګارانو هم که وي سړی یا ښځه

۳۰ زه به ښکاره کړم حیرانوونکې نښې

په هغه ورځ په اسمان او ځمکه

ویني توییږي به، وي به اور او ځپې د لوګي

۳۱ مخکې له دې نه چې راورسیږي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لويه او هيبتناکه ورځ د ښښتن

لمر به تياره شي او سپوږمۍ به سره شي

لکه د وينو په شان

٣٢ خو هرڅوک چې وغواړي مرسته د ښښتن په نامه

هغه به وژغورل شي

لکه ښنګه چې ويلي ما ښښتن

څه خلک به وتښتي په اورشليم کې د صهيون له غره نه

ژوندي به پاتې شي کوم خلک چې غوره کړي دي ما

## خدای به د خپل قوم دښمنانو ته سزا ورکړي

١ ښښتن وايي:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په هغه وخت کې به زه بېرته کړم نېکمرغه

یهودا او اورشلیم

٢ زه به راټول کړم ټول قومونه

او هغوی به راولم یهوشافاط یعنې د قضاوت درې ته

هغوی چې کړي دي څه زما د قوم سره

زه به کوم پرېکړه د هغوی په هکله

دوی خواره کړي اسراییلیان نورو ملکونو کې

او تقسیم کړی یې دی زما وطن

٣ هغوی ده پچه اچولې زما قوم باندې

چې بندیان خرخ شي په غلامې باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی خرخ کړل هلکان د فاحشو دپاره

او نجونې د شرابو اخیستو دپاره چې شي نشه

۴ خښتن وايي: «ای صور او صیدون او د فلسطین ټولو سیمو،
تاسو څه غواړئ چې ما سره يې وکړئ؟ تاسو زما څخه د څه شي
بدل اخلئ؟ که چېرې داسې وي، نو زه به تاسو ته ډېر زر بدله
درکړم! ۵ تاسو زما سپین زر او سره زر واخیستل او زما ډکې
خزانې مو خپلو کفري عبادتځایونو ته یووړلې. ۶ تاسو د یهودا او
اورشلیم خلک په یونانیانو باندې خرخ کړل، ترڅو هغوی د خپل
وطن څخه لیرې بوځي. ۷ زه به اوس هغوی د هغو ځایونو نه چې
تاسو په کې خرخ کړي دي، بېرته راولم. تاسو چې د هغوی سره کوم
کار کړی دی، نو زه به درسره هماغسې کار کوم. ۸ زه به ستاسو
زامن او لورګانې د یهودا په خلکو باندې خرخ کړم او هغوی به دوی
په سباییانو باندې چې په لیرې لیرې ځایونو کې اوسېږي خرخ کړي،
ځکه ما خښتن داسې ویلي دي.»

۹ دا اعلان وکړئ نورو قومونو ته


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جنګ ته تیار شئ

راوغواړئ خپل جنګیالیان

خپل ټول عسکر راټول کړئ او شئ روان

۱۰ خپل د قلبې پالونو نه کړئ جوړې تورې

او خپل لورونو نه چې ځانګې پرې کوئ ورباندې

نېزې جوړې کړئ

کمزوری دې ووایي چې زه یم جنګیالی

۱۱ بېړه وکړئ او دلته راشئ

ای شاوخوا ټول قومونو

او په دره کې شئ راټول



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ای څښتنه، خپل لښکر ولېږه چې وکړي حمله

په هغوی باندې

۱۲ شي دې تیار قومونه

او هغوی دې راشي یهوشافاط درې ته

هلته به ناست یم چې قضاوت وکړم

په هکله د شاوخوا قومونو

۱۳ په لاس کې واخلئ خپل لورونه

ځکه فصلونه پاخه شوي او تیار دي لو ته

داسې یې وټکوئ لکه انګور چې ټکول کیږي

په چاټیو کې چې ترې شراب روان شي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې زیاته ده بدکارې د هغوی

۱۴ دې په زرګونو زرګونو خلک د قضاوت دره کې

ځکه چې ورځ ده د څښتن رانژدې شوې هلته

۱۵ شي به تیاره لمر او سپوږمۍ

او نور به نه ځلیږي ستورې

۱۶ څښتن غوریږي د صهیون د غره نه

لکه زمري په شان

اورېدل کیږي یې لوړ اواز د اورشلیم نه

لکه د تندر په شان

ځمکه او اسمان لړزیږي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو هغه به کاندي دفاع د خپلو خلکو څخه

## خدای به خپل قوم ته برکت ورکړي

څښتن وايي:

۱۷ نو ای اسراییلو، تاسو به پوه شئ چې

څښتن خدای یم ستاسو

زه اوسېږم په صهیون کې خپل سپېڅلي غر باندې

اورشلیم به وي سپېڅلی ښار

او بیا به نه شي بریالي پردي خلک په هغه باندې

۱۸ په هغه وخت کې به د غرونو نه څڅېږي خواږه شراب

هرې غونډۍ نه به شېدې بهېږي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وي به پرېمانه اوبه د يهودا ټولو ويالو کې

خښبتن له کوره به وي اوبه رواني

او اوبه کيږي د شطيم وادي په دې ويالو باندې

١٩ دښته به جوړه شي د مصر څخه

او ادوم به شي وران او ويجاړ

ځکه چې دوی کړې حمله په يهودا باندې

او بې ګناه خلک يې وژلي د دې

٢٠-٢١ خو زه به واخلمه بدل د هغو خلکو

چې وژل شوي دي

زه به پرېنږدم ګناهکار خلک


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو یهودا او اورشلیم به همېشه اباد وي

او زه ښتن به اوسم د صهیون غره باندې

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳